لیکونکي : د . ا. محمد حق نیکزاد
Alternative Development Project /Southern Region, Lashkar gah

نېټه 09/02/2009

# کاروبارې ستراتیژي – د هرم ډوله مارکیټ ایجادول

هر کاروبار او مشغولتیا ځانته ټاکلي او مشخصه ستراتیژي لري چي د هغي په رڼا کي پلان سوي هدفونو ته د رسېدلو لارې چارې لټولي کېږي او مشخص فعالیتونه د سنجول سوو شاخصونو په نظر کي نیولو سره سرته رسېږي او د فعالیتونو د ارزوني په منظور دهمدغو شاخصونو د اجراتو څرنګوالي په ګوته کېږي .

دلته د کاري ستراتیژي څخه منظور هغه کاروباري ستراتیژي ده چي په کاروبار کي د غذايي موادو د زنځیر د ارزښت لوړول او د غریبانو سره د مرستي زیاتوالي دي.

داچي په اوسنیو شرایطو کي افغانستان یو وروسته پاته هېواد دي او و ګړي یې د هر ډول اقتصادي او ټولنیزو کړاوونو سره لاس او ګرېوان دي . نو ددي بدبختیو څخه د خلاصون یوه هڅه داده چي یوه داسي ستراتیژي تر لاس لاندي ونیوله سي چي خلک دداسي کاروبارونو د پیلولو خواته وهڅول سي چي په هغو کي د خوراکي موادو د زنځیر ارزښت زیات کړي او د غریبو خلګو لوړه ورکه کړي او د کاروبار زمینه ورته برابره کړي .دغه ستراتیژي د هرم ډوله مارکیټ ایجادول دي .

دغه ستراتیژي دهرم ډوله مارکیټ په چوکاټ کي نغښتي ده او دوه عمده حیاتي هدفونه سرته رسوي:

1. د خصوصي سکتور( د غیر دولتي سکتور) تقویه کول:
2. د غریبانو سره د مرستي کولو د هڅو زیاتوالي

ودي هدف ته د رسیدو په خاطر په کار داده چي د کاروباراو مشغولتیا د پر مختګ په هکله باید هغه لارې چارې په ګوته کړای سي چي خلک وکولای سي د هغو په واسطه دغه ورځني اقتصادي او ټولنیز ې نیمګړتیاوې لیرې کړي . هغه مبتکرانه لارې چارې چي ددغي ستراتیژي هدفونو ته لاس رسي د امکان وړ ګرځوي هغه عبارت دي له :

- د هرم ډوله مارکیټ په چوکاټ کي د مولدینو دامکاناتو زیاتول –هغه پانګه وال چي په تولیدي چارو بوخت دي ددوي امکانات باید وهڅول سي او مالي مرستي ورسره وسي ، تر څو د دوي تولیدي ظرفیتونه لوړ سي .
- په کرهنه کي و تولیدي موادو ته وده ورکول او زیاتول .د کرهني سکتور هغه وخت ښه وده کوي چي بزګرانو ته تولیدي مواد برابر او مناسبي قرضي ورکړه سي یعني د بزګرانو د پاره د کال په اوږدو کي د مناسبو کریډتونو برابرول حتمي کار دی
- و تولیدي موادو ته د بزګرانو د لاس رسي زیاتوال- بزګران باید ددي توان ولري چي د کښت په وخت کي په خپل محل کي د ضرورت وړ تولیدي مواد تر لاسه کړي . دا کار باید هغه ارګانونه پر غاړه ولري چي ددې هدف د پر مخ بیولو د پاره مالي سرچیني ولري او د پور ورکولو چارې پر مخ بیايي . د پور ورکولو شبکه باید د ولسوالي تر سطحي پورې وغزوله سي
- د بزګرانو د ظرفیتونو لوړول او هغه تقویه کول – بزګران باید دومره توان ولري چي د کښت په وخت کي د تولیدي مواد لاس ته راوړي . دا کار هغه وخت امکان لري چي د بزګرانو د محصولاتو د پاره مناسب مارکیټ پیدا سي او محصولات یې په پاخه شکل( پروسس سوي شکل) و مارکیټ ته په ښه بیه عرضه کړای سي . مارکیټ باید داسي وده وکړي چي د تولید کونکو او مصرف کونکو اړتیاوې په زیاتیدونکي توګه پوره کړي.
- د تولیدي موادو د تهیه کولو دزنځیر زیاتول – د تولیدي موادو زنځیر باید دومره اوږد وي چي د کلیو تر سطحي پورې ورسیږي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

- د کرهنې د تولېداتو د پروسس تقوېه کول او زېاتول – دکرهنې تولېدات باېد لمړې پروسس او بېا مارکېټ ته عرضه سې
- و مالي منابعو ته د بزګرانو د لاس رسي زېاتول - د مملکت په دننه کې باېد مالي منابع دومره زېات سې چې بزګران وکولاې سې د ولسوالې په سطح د پور اخېستلو مدارک ولرې . دا کار باېد مېلې پانګه وال او نړېوال مرستندوېه سرته ورسوې.
- د مصرف کونکو د کاروبار د حل لارې چارې – هغه کارونه باېد اېجاد کړاې سې چې کاروبارېان وکولاې سې په ډېره اسانه توګه غذاېې مواد و مصرف کونکو ته رسوې
- د غرېبو خلګو د غذاېې موادو دغذاېې ارزښت مطرح کول - د کال په اوږدو کې غذاېې مواد د نوعېت او کېفېت په لحاظ باېد د مصرف کونکو اړتېاوې پوره کړې . خلګ دداسې حالت سره مخامخ نسې چې پېسې په لاس اما خوراکې مواد وجود ونلرې .
- د غذاېې موادو د توزېع شبکې ته وسعت ورکول – څومره چې امکان ولرې باېد د خوراکې موادو د توزېع شبکه وسعت ومومې . دا کار د ېوې خوا وخلګو ته مشغولتېا پېدا کوې او د بلې خوا و خلګو ته د خوراکې موادو د لاسته راوړلو اسانتېاوې برابروې
- په کاروبار کې د متشبثېنو تفوېه کول - هر څوک چې د هر کاروبار سره علاقه ولرې باېد هغه تشوېق کړاې سې او هغه ته د کار شراېط برابر کړاې سې ، ترڅو خپل د علاقې وړ کار په پوره ذوق او شوق سره پر مخ بوزې .
- د ژوند د ښه کېدو د لارو چارو لټول – هغه لارې چارې باېد ولټولې سې چې په هغو سره د خلګو د ژوند ښه کېږې او هغو ته وسعت ورکړاې سې او تقوېه سې
- د غذاېې موادوزنځېر ته نوې بڼه ورکول - تل باېد هڅه وسې د غذاېې موادو د رسولو نوې او ښې لارې ولټولې سې ، تر څو خلګو ته د هرې ورځې په تېرېدو سره نوې اسانتېاوې په لاس ورسې
- د مارکېټ د معلوماتو د راټولولو د پوهې زېاتوالې – داسې شبکه اېجاد سې چې د مارکېټ په هکله تازه او نوې معلومات د تولېد کونکو او مصرف کونکو په اختېار کې ورکړې.
- د مشترېانو تر مېنځ د اړېکو زېاتوالې - هغه اړېکې چې د تولېد کونکو او مصرف کونکو تر مېنځ باېد موجود وې ، د هرې ورځې په تېرېدو سره د ښه کېدو پر مخ روانې وې
- د زړو مناسباتو پر ځاې د نوو مناسباتو اېجادول - هغه مناسبات چې د تولېد کونکو او مصرف کونکو ترمېنځ موجود وې ، هغه باېد د هرې ورځې په تېرېدو سره ښه او ښه تره سې

هغه دولتې ارګانونه او نړېوالې مرستندوېه ادارې چې د ېوې ېا بلې لارې د افغانستان په ابادولو کې مسؤلېتونه لرې او پانګه اچونې کوې او خصوصې سکتورته وده ورکوې ، زما وړاندېز دادې چې په پورتنېو سکتورونو کې ټوله داخلې او نړېوال پانګه وال و هڅول سې چې د هرم ډوله مارکېټ په اېجادولو ، وسعت ورکولو او تقوېه کولو کې پوره مرسته وکړې ، تر څو دا زمېنه برابره سې چې د دې هېواد و غرېبو خلګو ته د باارزښته غذاېې موادو زنځېر په لاس راوړه سې او ژوند ته ېې نوې بڼه ورکړه سې .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de